## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**23 سنبله_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


**د قرآن کریم حفظ کول لوی فضیلت دی، خو اصل هدف د قرآن ترسیوري لاندې ژوند کول دي ------------------------1**

**یک باب مکتب در ولایت جوزجان افتتاح شد---------------------------------------------------------------------2**

**د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست وکاته--------------------------2**

**د د دایمي حللارو موندني په موخه د کاري ډلگی د لایحې په اړه ناسته وشوه----------------------------------------3**

**برای 6 خانواده در ولایت بادغیس، کمک نقدی توزیع شد---------------------------------------------------------4**

**کندز کې د تلپاتې مېشتېدني کمېټې اومه ناسته وشوه ---------------------------------------------------------------4**

**برای 28 خانواده در ولایت سرپل مساعدت صورت گرفت--------------------------------------------------------5**

**جرمني غواړي پناه غوښتونکي «پولي ته څېرمه» په توقیف ځایونو کې وساتي--------------------------------------5**

**سویډن غواړي په خپله خوښه له ستنېدونکو کډوالو سره تر ۳۰ زره یورو مالي مرسته وکړي ----------------------7**

**اتحادیه اروپا: الزام درخواست ویزای الکترونیکی برای سفر به بریتانیا از اپریل سال آینده --------------------------9**

# متن کامل اخبار

## د قرآن کریم حفظ کول لوی فضیلت دی، خو اصل هدف د قرآن ترسیوري لاندې ژوند کول دي

د وزارت ویب سایت




**د پکتیا مرکز ګردیز، په جامعه دارالعلوم عثمانیه کې د حافظانو په فراغت غونډه کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني اوویل: که څه هم د قرآن کریم حفظ کول لوی فضیلت لري، خو د قرآن د نازلیدو لومړنی هدف په قرآن عمل کول او د اسلامي شریعت تر سیوري لاندې ژوند کول دی**

**د مهاجرینو چارو وزیر له علماو وغوښتل، چې کلیوالي مدرسې پیاوړې او لا زیاته توجه ورته وکړي، نوموړي له ولسونو هم وغوښتل، چې د مدرسو ملاتړ ته دوام ورکړي او خپلې مرستې ورسره د پخوا په څیر جاري وساتي**

**ښاغلي حقاني په خپلو خبرو کې د قومونو ترمنځ په اتفاق او یووالي ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، هیچاته اجازه ورنکړئ، چې په قومي، ژبني او سمتي اختلافاتو مو وویشي**

**نوموړي ډاډ څرګند کړ، چې اسلامي امارت د هېواد ټولو سړکونو، بندونو، مکتبونو، کلینیکونو او ترانزیټي لارو جوړولو ته کلک هوډ لري او په خپل خپل وخت سره به د ملت ټولې هیله پوره کیږي**

## یک باب مکتب در ولایت جوزجان افتتاح شد

ویب سایت وزارت




**یک باب مکتب در ولایت جوزجان با حضور مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده‌گان و قاری گل حیدر شفق والی آن ولایت افتتاح شد.**

**مکتب متذکره با هزینه ۲۳ میلیون افغانی باحمایت مالی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان توسط شرکت ساختمانی وحید ضیا در محل کشکک ولسوالی فیض آباد ولایت جوزجان ساخته شده که مجهز با وسایل میباشد**

**معین مسلکی وزارت گفت، با آمدن امارت اسلامی پروژه های زیادی افتتاح شده دولت و ملت با هم یکجا کار نموده تا پروژه ها بیشتر شده و افغانستان مترقی گردد.**

**والی جوزجان نیز از افتتاح پروژه متذکره ابراز خرسندی نموده آن را یک گام مهم بسوی آبادانی کشور دانست.**

## د مهاجرينو چارو وزارت مسلكي مرستيال د جوزجان ولايت د مهاجرينو چارو رياست وكاته

د وزارت ويب سايت

**د مهاجرينو او راستنيدونكو چارو وزارت مسلكي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد جوزجان ولايت ته د خپل سفر په ترڅ كي د دغه ولايت د مهاجرينو چارو رياست ليدنه وكړه.**

ښاغلي راشد د دغه ریاست له رییس او کارکوونکو سره په کتنه کې دغه ولایت ته د خپل سفر موخې، د تطبیق په برخه کې شته ستونزې وویلې او د دغه ریاست کارکوونکو ته یې په خپلو دندو کې په صادقانه کار ټینګار وکړ.

د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو رییس ملا امان الله طلحه مسلکي مرستیال او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د وزارت د رهبرۍ د چارو ستاینه یې وکړه او زیاته یې کړه: موږ به تل د خپلو خلکو په خدمت کې یو او له مهاجرینو وزارت سره پر همغږۍ به ستونزې حلوو.

## د د دایمي حللارو موندنې په موخه د کاري ډلګې د لایحې په اړه ناسته وشوه

د وزارت ویب سایت



د وزارت د دفتر رییس او اوس د مسلکي معینیت سرپرست مولوي محمد جان خدرخېل په مشرۍ او د پلان او پالیسۍ، د دایمي حللارو موندنې او د داخلي بېځایه شویو وضعیت ته رسېدنې ریاستونو د رییسانو په شتون کې د د دایمي حللارود موندنې په موخه د کاري ډلګۍ د لایحې په اړه ناسته وشوه.

په دې کتنه کې د دایمي حللارو رییس مولوي شمال خان مصلح د موضوع پر ارزښت خبرې وکړې او زیاته یې کړه، چې موخه یې د چارو په پرمختګ کې اغېزناکه کېدل او نهایي هدف ته رسېدل دي.

د ناستې ګډونوالو خپل نظرونه وړاندې کړل او پریکړه یې وکړه، چې په راتلونکې ناسته کې به د اسنادو له څېړلو وروسته کاري لایحه د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنرۍ ته واستول شي.

## برای 6 خانواده در ولایت بادغیس، کمک نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت

**برای 6 خانواده، در ولایت بادغیس کمک نقدی بتاریخ 21 سنبله توزیع شد.**

**خانواده ها شامل بیجاشده و برگشت کننده بوده که قبلاً از طرف اداره مهاجرین آن ولایت، در مرکز مورد شناسایی قرار گرفته بودند.**

**کمک یاد شده در سه بخش مبلغ 48 هزار و 540 افغانی، 24 هزار و 270 افغانی و 17 هزار و 750 افغانی از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان بود که با نظارت آمریت امور مهاجرین توزیع شد.**

## کندز کې د تلپاتې مېشتېدنې کمېټې اومه ناسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**د کندز ولایت د مرستیال والبې مولوي حبیب الرحمن صهیب په مشرئ او د اړوندو دولتي ادارو او موسسو د استازو په شتون کې د راستنېدونکو او بېځایه شویو د تلپاتې مېشتېدنې کمېټې اومه ناسته د وړي پر یویشتمه وشوه.**

**د کندز ولایت د مهاجرینو رییس مولوي عبدالولي محمدي د راستنېدونکو او بې ځایه شویو د ستونزو په اړه خبرې وکړې او ستونزو ته د رسېدنې لپاره یې د ولایت مقام او مرستندویو بنسټونو د همکارۍ غوښتنه وکړه.**

**په ناسته کې د موسسو استازو هر یو خپل کاري پلانونه وویل او د ناستې په پای کې د کندز مرستیال والي د په ټولو برخو کې لازمي لارښوونې وکړې.**

## برای 28 خانواده در ولایت سرپل مساعدت صورت گرفت

ویب سایت وزارت




**برای 28 خانواده بیجاشده و برگشت کننده در ولایت سرپل کمک نقدی بتاریخ 21 سنبله توزیع شد.**

**خانواده های مذکور قبلاً از طرف اداره امور مهاجرین آن ولایت شناسایی شده بودند مبلغ 21 هزار و 500 افغانی و 17 هزار و 750 افغانی کمک کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان را با نظارت آمریت امور مهاجرین بدست آوردند .**

## جرمني غوارې پناه غوښتونکي «پولې ته څېرمه» په توقیف ځایونو کې وساتي

مهاجرنیوز




**د جرمني حکومت وايي په پام کې لري چې ورتلونکي پناه غوښتونکي «پولې ته څېرمه» په بند کې وساتي او د هغو مهاجرو د ايستلو پروسه به هم چټکه کړي چې د اروپايي ټولنې نورو هېوادونو کې يې ګوتې لګولې.**

**د جرمني د کورنيو چارو وزيرې نانسي فيزر د دوشنبې په ورځ ويلي وو يوه داسې قضايي حل لاره يې موندلې چې «له اروپايي قوانينو سره سمون لري». نوموړې د سپتمبر په ۱۰مه د دې تګلارې په اړه جزيات ورکړل.**

**هغې خبريالانو ته وويل، هېواد يې په پام کې لري چې ورتلونکي کډوال «پولې ته څېرمه» په بند کې وساتي او د اداري وضعيت د معلومولو لپاره يې هڅې چټکې کړي. په بل عبارت، امنيتي ځواکونه اجازه لري چې پناه غوښتونکي پولې ته څېرمه په «زندان يا هغو جوړښتونو کې چې شرايط پکې سخت دي» وساتي ترڅو د هغوی له تېښتې څخه مخنيوی وکړي. په دغه موده کې ليدل کېږي چې ايا دوی په نورو هېوادونو کې د پناه غوښتنه کړې ده که نه.**

**برلين د هغو کډوالو د ايستلو په برخه کې له ستونزې سره مخ دی چې د اروپايي ټولنې نورو هېواد کې يې د پناه غوښتنه کړې او د دوبلين تر قاعدې لاندې راځي.**

**نانسي فيزر دا هم وويل چې چارواکي «په اونۍ کې ۷ ورځې او په ورځ کې ۲۴ ساعته «فعاليت کوي ترڅو د پناه غوښتونکو د ايستلو ټول پړاوونه د «پنځو اونيو» په جريان کې پای ته ورسېږي. د کورنيو چارو وزيرې په وينا، دغه لنډمهاله تګلاره به تر هغه وخته ادامه ولري چې د اروپا د کډوالۍ او پناه غوښتنې رفورم نافذ شي.**

**ناکامې خبرې اترې**

**درې ورځې مخکې د جرمني مرکزي پارلمان بنډستاګ کې د کډوالۍ د پاليسۍ د سختولو په اړه د مسيحي ګوندونو د اتحاد او د حکومت ترمنځ سلامشورې ناکامه شوې او د مسيحي اتحاد ګوندونو مشر له حکومت سره کډوالۍ په تړاو خبرو اترو څخه پر شا شو.**

**دغه مشورې د سه شنبې په ماسپښین د نږدې دوو ساعتونو وروسته ختمې شوې. د مسیحي دموکرات ګوند سیاستوال تورستن فرای وویل چې مسیحي اتحاد او د آلمان ائتلافي حکومت «یوې ګډې پایلې ته ونه رسېدل.» هغه زیاته کړه: «هغه څه چې ائتلافي حکومت یې وړاندیز کړی دی.. د ډېرو کسانو [کډوالو] د بېرته ستنولو لامل نه کېږي...» دغه ګوند همداراز وویل چې د جرمني تګلاره یوازې د هغو پناه غوښتونکو د ایستلو لپاره ده چې د اروپا په مرکزي ډېټابېس کې ثبت دي. نانسي فیزر دا خبره رد کړه خو نور جزیات یې ور نه کړل.**

**د مسیحي اتحاد ګوندونو د دې خبرو اترو لپاره شرط ایښی و چې د پناه غوښتونکو بېرته ستنول د آلمان پر پولو ترسره شي.**

**دا هم ولولئ**
**<u>آلمان کې د مهاجرت په تړاو سیاسي خبرو اترو تر ناکامۍ وروسته یو پر بل تورونه</u>**

**پر ځکمنیو پولو د کنټرول پیل**

**دا په داسې حال کې ده چې د جرمني د کورنیو چارو وزیرې نانسي فایزر د روانې اونۍ په پیل کې <u>د دغه هېواد پر ټولو ځمکنیو پولو د لنډمهال لپاره د کنټرول د پیل</u> خبر ورکړی و.**

**د کورنیو چارو وزارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي وو چې د سپتمبر په ۱۶مه به له لوکزامبورګ، هالنډ، بلجیم او ډنمارک سره پر پولو کنټرول پیل شي .جرمني تېر کال له پولنډ، چک جمهوریت، اتریش او سویس سره پر پولو کنټرول وضع کړی و چې لا ادامه لري.**

**د یادولو ده چې د جرمني به زولینګن ښار کې د یوه ۲۶ کلن سوریایي له خوا پر عامه خلکو تر برید وروسته چې له امله یې درې کسان ووژل شول په دغه هېواد کې د کډوالو مسله یو ځل بیا توده شوې ده .دغه بریدګر چې ګومان کېږي له داعش سره اړیکه لري په ۲۰۲۲ کې جرمنی ته رسېدلی و او تمه وه چې د ډوبلین د قواعدو پر اساس بلغاریا ته واستول شوی .خو نوموړی بلغاریا ته له استول کېدو مخکې لادرکه شوی و.**

## سویډن غواړي په خپله خوښه له ستنېدونکو کډوالو سره تر ۳۰ زره یورو مالي مرسته وکړي

مهاجرنیوز




د سویډن د ښي اړخي ایتلافي حکومت د پنجشنبې په ورځ وویل په پام کې لري چې په خپله خوښه له ستنېدونکو کډوالو سره تر ۳۰ زره یورو پورې مالي مرسته وکړي. تمه ده چې د ملاتړ دغه پروګرام په ۲۰۲۶ کې پیل شي .

د سویډن د ښي اړخي ایتلافي حکومت غواړي په خپله خوښه له بیرته ستنېدونکو کډوالو سره تر ۳۰ زره یورو پورې مالي مرسته وکړي. د ملاتړ د دغه پروګرام موخه د کډوالو د شمېر کمول ښودل شوي دي. تمه ده چې دا پروګرام په ۲۰۲۶ کې پیل شي.

د سویډن د کډوالۍ وزیر یوهان فورسل د پنجشنبې په ورځ، د اګست په ۱۳مه، وویل: «موږ د کډوالۍ سیاست په بیا تنظیمولو کې له نوو پړاوونو څخه تېرېږو«.

دمګړۍ سویډن هغو بالغو کډوالو ته چې بیرته خپلو هیوادونو ته ستنیږي ۱۰ زره کورون یا ۸۷۹ یورو، ماشومانو ته ۵۰۰۰ کورون یا ۴۳۹ یورو او کورنیو ته ۴۰ زره کورون یا ۳۵۱۲ یورو ورکوي.

په پارلمان کې د دموکراتانو ښي اړخي افراطي ګوند استازي لودویک اسپلینګ یوې خبري غونډې ته وویل چې دغه مالي مرسته «له ۱۹۸۴ راهیسې شتون لري، خو کمه ده او لږ کسان یې پېژني». هغه زیاته کړه چې د ملاتړ د مبلغ په ډېرېدو سره ښایي سلګونه زره وزګاره او یا کم عایده کډوال ترې ګټه واخلي.

**خو یوه څېړنه چې حکومت یې د ترسره کېدو غوښتنه کړې او په اګست میاشت کې خپره شوې ښیي چې دا اقدام اغېزمن نه دی او له راستنېدونکو سره د مرستو له زیاتولو څخه باید ډډه وشي. د راپور چمتو کوونکي یواکیم رویست لیکلي وو چې دا کار د کډوالو د ادغام مخه هم نیولی شي.**

**د اروپا یو شمېر نور هېوادونه هم له بېرته ستنېدونکو کډوالو سره مالي مرسته کوي. په ډنمارک کې ستنېدونکو مهاجرو ته ۱۳ زره یورو، ناروې کې ۱۳۰۰ یورو او فرانسه کې ۲۵۰۰ زره یورو ورکول کېږي.**

**دا هم ولولئ**
**<u>هغه اروپايي هېوادونه چې د کډوالو پر وړاندې يې خپل دريځ سخت کړی دی</u>**

**د کډوالو پر وړاندې سخت دریځ**

**په تېرو څو کلونو کې سویډن د کډوالو پر وړاندې خپل دریځ سخت کړی دی.**

**د سویډن د کډوالۍ وزارت د روان کال په فبرورۍ کې اعلان وکړ په پام کې لري چې غیر اروپايي مسلکي کارګرو ته <u>د ویزو د ورکړې لپاره د عایداتو کچه نوره هم لوړه کړي</u> .د ۲۰۲۳ د نومبر له لومړۍ نېټې وروسته د سویډن د کاري ویزې د ترلاسه کولو لپاره د عایداتو میاشتنۍ کچه له ۱۳۰۰۰ کورون یا ۱۱۵۰ یورو څخه ۲۷۳۶۰ کورون یا ۲۴۰۰ ته لوړ شوې و، خو چارواکو ویلي وو چې دغه مبلغ باید ۳۴۲۰۰ کورون یا ۳۰۰۰ یورو ته لوړ شي.**

**سویډن همداراز وایي غواړي چې د کورنیو د یو ځای کېدو شرایط سخت کړي. د سویډن ایتلافي حکومت د ۲۰۲۳ په اکتوبر کې هم اعلان کړی و چې په پام کې لري <u>ټولنیزو مرستو ته د غیر اروپايي کډوالو لاسرسی محدود کړي</u> .چارواکو ویلي وو غواړي د ټولنیزو مرستو په محدودولو سره کډوال دې ته اړ کړي چې ځان ته کار ومومي او سویډني ژبه زده کړي.**

**له دې اعلان څخه یوه میاشت وروسته د سویډن حکومت ویلي وو چې <u>کډوال اړ دي چې په دغه کې «په صادقانه توګه» ژوند وکړي</u> .د چارواکو په وینا، هغه بهرنیان چې له جرمي ډلو سره اړیکه لري او یا «د سویډن دموکراتیکو ارزښتونو» ته ګواښ پېښوي له دغه اسکاندیناوي هېواد څخه ایستل کېږي.**

**سربېره پر دې، د سویډن د حکومت په مسوده کې راغلي وو چې دولتي کارکوونکي مکلفیت لري چې له بې اسناده کسانو سره د اړیکې نیولو په صورت کې د کډوالۍ اداري او پولیسو ته خبر ورکړي. خو د عامه خدماتو کارکوونکو دا مسوده غندلي او <u>پر وړاندې یې د«مدني نافرمانۍ» اعلان کړی</u> دی.**

**په ۲۰۱۵ کې سویډن یو له هغه هېوادونو و چې د کډوالو پر مخ یې خپله دروازه پرانیستې وه او تر ۱۵۰ زره زیات کډوال یې منلي وو. د اسکاندیناویا دغه هېواد په ۱۹۹۰ کلونو کې هم د پخوانۍ یوګوسلاویا، سوریې، افغانستان، سومالیا، ایران او عراق زیات کډوالو ته پناه ورکړې وه.**

**خو په ۲۰۲۲ کې محافظه کار او د ښي اړخو افراطي ګوندونو پارلماني ټاکنې وګټلې. هغه مهال د دموکراتانو مشر جیمي اکېسون چې د کډوالۍ او جرایمو د کچې پر کمولو ټینګار کوي ویلي وو چې اوس باید سویډن ته لومړیتوب ورکړل شي.**

## اتحادیه اروپا: الزام درخواست ویزای الکترونیکی برای سفر به بریتانیا از اپریل سال آینده

مهاجرنیوز




**از ماه اپریل سال آینده، شهروندان اتحادیه اروپا ملزم به درخواست ویزای الکترونیکی برای سفر به بریتانیا هستند. این ویزای الکترونیکی ۱۰ پوند (حدود ۱۲ یورو) هزینه دارد.**

**وزارت داخله بریتانیا چهارشنبه ۱۱ سپتمبر اعلام کرد که از ۲ اپریل سال آینده، آن عده از شهروندان اتحادیه اروپا که خواهان سفر به بریتانیا هستند باید ویزای الکترونیکیETA)**

**(درخواست کنند. این ویزا از مدل امریکایی پیروی می‌کند و تنها ساکنان ایرلند بر اساس قانون رفت و آمد آزاد بین دو کشور، از آن معاف هستند.**

**پیش از این گفته می شد که ویزای الکترونیکی در پایان سال ۲۰۲۴ اجرایی می‌شود، اما اکنون تاریخ دقیق اجرایی شدن آن توسط وزارت داخله بریتانیا اعلام شده است. این ویزای الکترونیکی ۱۰ پوند یا حدود ۱۲ یورو هزینه دارد .شهروندان اتحادیه اروپا می‌توانند پس از ۵ مارچ ۲۰۲۵ به صورت آنلاین ویزای الکترونیکی درخواست کنند.**

**برای دریافت این ویزا درخواست کنندگان باید یک فورمه انلاین را پر کنند. آنان باید چند روز قبل از سفر به بریتانیا برای درخواست ویزا اقدام کنند**

**" تقویت امنیت و نوسازی سیستم مهاجرت"**

**به گفته مقامات، بررسی درخواست های ویزا ۴۸ تا ۷۲ ساعت طول می‌کشد. این ویزا انواع مختلفی دارد و مانند مدل آمریکایی، دو سال اعتبار خواهد داشت.**

**دارندگان ویزا باید مدارک هویتی خود را هنگام ورود به بریتانیا اسکن کنند. آنها می‌توانند چندین بار با ویزای الکترونیک به بریتانیا سفر کنند و در یک دوره دو ساله تا ۶ ماه در این کشور بمانند.**

**مقامات بریتانیایی می‌گویند هدف از اجرایی شدن ویزای الکترونیکی «تقویت امنیت و نوسازی سیستم مهاجرت با استفاده از فناوری های جدید» است.**

**در حال حاضر تنها ساکنان برخی از کشورهای حوزه خلیج فارس برای سفر به بریتانیا باید درخواست ویزای الکترونیکی بدهند که ظرف سه روز صادر می‌شود.**